# څوک پر حقه دي؟

ترتیب: ینبع اسلامي مرکز

ژباړه: انجنیر حفیظ الله سادات

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پېژندنه

په نړۍ کې له ډېرو دینونو او مذهبونو پیروي کېږي. او هر یو له موږ ادعا کوو هغه څه چې موږ یې پیروي کوو په حقه دي. مګر څوک په رښتیا هم پر حقه دي؟ په لمړي سر کې پدې کتاب کې داسې فرض کېږي چې موږ ټول په غلطه او ناحقه یو. هر څه له ابتدا پیل کېږي، زموږ پنځه ګوني حواس، او په کرار کرار او بېطرفه بڼه مخ ته ځو تر څو د کتاب تر آخره دغه سوال ته ځواب پیدا کړو. هیله مو داده چې سمدستي د کتاب آخرنۍ برخې یا پایلې ته مه ځئ مګر د کتاب ټولې برخې تعقیب کړئ تر څو پایلې ته ورسېږئ. کوشش مو کړی د دې کتاب ټول مباحث تر وروستي حده په بشپړه توګه بېطرفه وي، په همدې بڼه له خپلو درنو لوستونکو هم تمه لرو د لوستلو پر وخت یې پوره بېطرفي وساتي. تاسو ته به د دې کتاب د پایلې سره قناعت حاصل شي یا هم ممکن هېڅ قناعت ونه کړئ مګر موږ مطمئن یوو د دې کتاب له لوستلو به خوند واخلئ.

# څوک پر حقه دي؟

له کوم دین پیروي وکړم او څنګه پوی شم چې دا دین پر حقه دین دی؟ د دې سوال د ځوابولو لپاره راځئ یوې مشترکې نکتې ته راشو. دا مشترکه نکته داده چې فرض کړو موږ ټول په غلطه یوو او د حق په لټه کې یوو. حقیقت ډېری وخت زموږ د تمثیلونو او مثالونو قرباني وي. هر څوک دا ادعا لري چې دا د دوی الګو او ذهني ماډل پر بنسټ دی. پرهمدې اساس، زیاتره لیکنې او مباحثې د هغه حقیقیت پر بنسټ دي چې یو څوک یې ادعا کوي. پدې کوچنۍ ټولګه کې به موږ د حقیقت د موندنې په موخه قدم په قدم مخې ته ولاړ شو. که داسې فرض کړو چې موږ دواړه په ناحقه یوو او اړتیا لرو چې د حقیقت پلټنه وکړو، نو راځئ له ځانه یې وپوښتو چې څرنګه د حقیقت لټه کولای شو؟ که چېرته حقیقت مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستي مقصد وي، نو موږ یوې سمې لارې ته اړتیا لرو تر څو موږ هلته ورسوي. او ددې لپاره چې سمه لاره پیدا کړو، اړتیا لرو پوی شو چې څرنګه یې لټه کولای شو؟ یوه اساسي لاره چې ټول مخلوقات یې د یو شي د پیدا کولو لپاره کاروي داده چې خپل پنځه ګوني حواس په کار واچوو. پدې مرحله کې به خپل عقل او فکر و نه کاروو! راځئ وګورو، واورو، حس کړو، بوی کړو او یا هم خوند وڅکوو.

- راځئ آسمان، ځمکې، خپلو ځانونو، زموږ شاوخوا مخلوقاتو او نورو ته وګورو.
- راځئ د مرغانو آوازونه، د بادونو کښهاری، د اوبو شرار او نور واورو.
- راځئ یخني، ګرمي، درد، خوشحالي او نور حس کړو.
- راځئ ګلان او عطرونه بوی کړو.
- راځئ د بېلا بېلو خوړو، مېوو، سبزیجاتو، خوږو او ترخو خوند وڅکوو.

بالاخره، زموږ شاوخوا په میلیونونه داسې شیان شته چې موږ یې د پېژندلو لپاره خپل حواس کارولی شو. دا شیان همداسې پیداشوي دي لکه موږ چې پیدا شوي یوو، یوازینی فرق یې دادی چې دغه شیان زموږ لپاره پیدا شوي دي او موږ ترې ګټه اخلو. اوس چې ټول حواس مو وکارول، راځئ اوس دا هم ومنو یا داسې فرض کړو چې موږ په خپلو حواسو هېڅ کنترول نه لرو او بدون لدې چې حتی په اړه یې فکر وکړو په طبعي ډول یې کاروو. راځئ دا هم ومنو چې زموږ شاوخوا ځینې داسې خلک هم شته چې ددې حواسو له جملې ځینې نه لري او همدا هیله لري چې کاشکې درلودلای یې. راځئ دا هم ومنو چې د دې حواسو په درلودلو کې موږ هېڅ واک نه درلود او په همدې بڼه پیدا شوي یوو. بالاخره، راځئ په ټولیزه بڼه دا ومنو چې موږ د هر هغه چا چې دا حواس یې راکړي شکرګذار یو او قدرداني یې کوو. مننه.

د ټولو مخلوقاتو له جملې موږ ته عقل راکړل شو تر څو فکر وکړو. اوس نو راځئ د نورو ټولو مخلوقاتو څخه یو قدم لوړ ولاړ شو او له خپل عقل او فکر څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار واخلو. راځئ فکر وکړو چې ولې راته دا حواس راکړل شول؟ د دې پوښتنې لپاره له دغه دوه عمومي ځوابونو څخه یو خامخا درلودلای شو: (۱) تر څو د ژوند په چارو کې راسره مرسته وکړي. (۲) یو مهم مقصد او هدف شته چې موږ یې په اړه نه پوهیږو. فکر کوم د لمړي ځواب د سم والي سره به په اسانۍ موافق وو. مګر آیا یوازینی سم ځواب همدا دی؟ زه ادعا کوم چې نه. موږ ته دا حواس د دې لپاره راکړل شوي چې په مرسته یې یو ټاکل شوی ماموریت ترسره کړو. راځئ لمړی د دې ماموریت په اړه فکر و نه کړو.
پر هغه څه چې موږ باید پدې مرحله کې پرې توافق وکړو دا دی چې هر څومره چې موږ د یوې راکړل شوې منبع څخه استفاده وکړو په هماغه اندازه به مو په ښه شکل مصرف کړې وي. د مثال په توګه، هر څومره چې موږ وکولای شو په یوه دقیقه کې یو څه ترلاسه کړو په هماغه اندازه به مو هغه یوه دقیقه ښه مصرف کړې وي. موافق یاست؟ بل توافق چې پدې مرحله کې یې باید ترلاسه کړو دادی چې که چېرې یوه منبع د یوې مشخصې دندې یا هدف لپاره ډیزاین شوې وي، نو موږ اړتیا لرو چې یاده منبع د ټاکل شوي هدف د ترلاسه کولو لپاره وکاروو. که داسې ونه کړو نو منبع مو ضایع کړې ده. د مثال په ډول، که چېرته پورتنۍ یوه دقیقه د یو کار لپاره ټاکل شوې وي، موږ یې باید د کورنۍ لپاره و نه کاروو. اګر که موږ په یاده دقیقه کې د کورنۍ لپاره ډېر څه ترلاسه کولای شو، موږ اصلاً یاده دقیقه ضایع کوو ځکه موږ یې د هغه څه لپاره کاروو د کوم څه لپاره چې اصلاً نده ځانګړې شوې. په همدې ترتیب، زموږ د پنځه ګونو حواسو سره هم باید ورته چلند وشي او د هغه څه لپاره وکارول شي د کوم څه لپاره چې ډیزاین شوي دي او دوهمه دا چې کوشش وشي هر څومره ټاکل شوي اهداف چې ترلاسه کېدای شي ترلاسه کړل شي. ښنګه پوی شو چې زموږ حواس د څه لپاره ډیزاین شوي دي؟ د دې کار لپاره یوازینۍ لاره داده چې د هغه چا څخه پوښتنه وکړو کوم چا چې یاد حواس ډیزاین کړي دي. موږ نه غواړو چې له بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا ځخه یې په اړه پوښتنه وکړو هغه که هر بل څوک وي. زموږ د حواسو ډېزاین کوونکي موږ ته خپل کتاب رالېږلی او سپارښتنه یې کړې چې د هغه مطابق ژوند وکړو. هر کله چې موږ له دغه کتاب ځخه لرې کېږو، په حقیقت کې موږ د کتاب د رالیږونکي قوانین ماتوو. نو راځئ بېرته د هغه کتاب ته ور وګرځو او هغه پوښتنه چې د همدغه پاراګراف په سر کې پوښتل شوې یو ځل بیا مطرح کړو.

مګر کوم کتاب ته رجوع وکړو، تورات، انجیل او که قرآن؟ هر یو به ادعا کوي چې د دوی کتاب حقیقي کتاب دی. مګر موږ نه غواړو چې بحث مو همدلته پای ته ورسوو یا هم بل لوري ته ولاړ شو. کله هم نه. ښه خبر دا دی چې درې واړه (تورات، انجیل او قرآن) د خدای کتابونه دي. موږ به د دوی له منځ ځخه وروستی یو (قرآن) چې بشریت ته رالیږل شوی دی غوره کړو ځکه دا ټول هغه څه چې لدې مخکې کتابونو کې نازل شوي دي تائیدوي او تاسو یې په لاندې آیت کې لېدلای شئ:

نَزَّلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ

﴿آل عمران :۳﴾

ژباړه: پرحقه یې پرتا داسې کتاب نازل کړی چې د مخکنیو تصدیقونکی دی، او تورات او انجیل یې هم نازل کړي دي.

راځئ قرآن بشریت ته د خدای د ورکړل شوي لارښود په حیث وکاروو او د دې پوښتنې لپاره چې؛ زموږ حواس د څه لپاره ډېزاین شوي دي؟ ځواب پیدا کړو.

الله ﷻ په قران کریم کې فرمایي:

وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْۢ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔاۙ وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿ النحل: ۷۸ ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: او الله تاسو د خپلو میندو له ګېډو په داسې حال کې راووېستئ چې په هېڅ هم نه پوهېدئ او هغه تاسو ته غوږونه، سترګې او زړونه درکړل چې شکر وباسئ.

دا آیت په ښکاره بڼه دا په ډاګه کوي چې موږ ته د لېدلو او اورېدلو حسونه راکړل شوي دي او موږ باید شکر کوونکي واوسو.

الله ﷻ همدارنګه په قرانکریم کې فرمايي:

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۗ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ

﴿المؤمنون: ۷۸ ﴾

ژباړه: او دی هماغه ذات دی چې تاسو ته يې غوږونه، سترګې او زړونه پیدا کړي، خو تاسو ډېر لږ شکر وباسئ.

او همداسې فرمايي:

وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۗ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿ السجدة: ۹ ﴾

ژباړه: او تاسې ته يې د اورېدو، لیدو (قوتونه) او (فکر کولو) زړونه درکړل (خو تاسو ډېر لږ شکر باسئ.

لاندې آیت ته هم پام وکړئ:

قُلْ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۗ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ

﴿ الملك: ۲۳ ﴾

ژباړه: ووایه؛ هماغه (الله) دی چې تاسې يې پیدا کړئ، غوږونه، سترګې او زړونه يې درته جوړ کړل خو تاسې لږ شکر باسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه دری آیاتونه دا حقیقت په ګوته کوي چې الله ﷻ انسانانو ته د لیدلو او اورېدلو حواس ورکړي مګر ډېر کم خلک شکر ایستونکي دي. له پورتینو څلورو ایاتونو څخه دا نتیجه ترلاسه کولای شو چې موږ ته دا حواس د دې لپاره راکړل شوي تر څو د هغه چا څخه چې د احواس یې موږ ته راکړي شکر ایستونکي واوسو. فکر کوم دا نتیجه به خورا ساده او آسانه وي او هر چا ته به د منلو وړ وي ځکه دا د هغه څه تایید کوي چې موږ له ماشومتوب څخه زده کړي دي او هغه دا چې له هر هغه چا څخه مننه وکړو چې موږ ته یو څه راکوي یا له موږ سره مرسته کوي. راځئ بېرته قرآن ته وګرځو او د دې په اړه چې څرنګه له هغه چا څخه چې موږ ته یې دا حواس راکړي مننه وکړو. الله ﷻ په قران کریم کې وایي:

اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ ۗ وَلَا يَرْضٰى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۚ وَاِنْ تَشْكُرُوْا يَرْضَهُ لَكُمْ ؕ

﴿ الزمر: ۷ ﴾

ژباړه: که تاسو کفر وکړئ نو الله یقیناً له تاسې بې پروا دی او هغه خپلو بندګانو ته کفر نه خوښوي او که شکر وکړئ نو دا درته خوښوي.

الله ﷻ همدارنګه زیاتوي:

وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ اٰبَآءِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ مَا كَانَ لَنَآ اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ

﴿ یوسف: ۳۸ ﴾

ژباړه: او ما د خپلو پلرونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب ددین متابعت کړی، موږ ته نه ښایي چې الله سره کوم شی شریك وګڼو دا پر موږ او نورو (ټولو) خلکو د الله یو فضل دی خو زیاتره خلك شکر نه باسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدې اساس، د منې کولو لمړۍ بنه عقیده درلودل دي. کله چې موږ د هغه (الله ﷻ) له موجودیت څخه انکار وکړو، دا پدې معنی ده چې موږ د هغه شکر نه دی ادا کړی او له هغه څخه مو د هغه څه لپاره چې موږ ته یې راکړي مننه نه ده کړې. کله چې موږ له هغه سره داسې یو څوک شریک نیسو چې موږ ته یې څه نه وي راکړي یا یې نه شي راکولی، نو موږ یقینا په ښه ډول ترې مننه نده کړې. ساده به یې ووایو، الله ﷻ یوازینی ذات دی چې د ټولو هغه څه لپاره چې موږ ته یې راکړي ترې مننه وکړو. یو له دغو شیانو څخه پنځه ګوني حواس دي چې موږ یې په نشتون کې ژوند نه شو کولای. اوس پوی شوو چې ولې ډېرو کمو خلکو شکر ادا کړ او د نعمتونو په پار یې مننه وکړه. په حقیقت کې هغه مننه کول چې الله ﷻ یې له موږ څخه غواړي تنها دا کلمه نه ده چې (مننه کوم) او بس. هغه په اصل کې د دې څخه د ډېر څه غوښتنه کوي. الله ﷻ له موږ څخه غواړي چې تنها پرهغه ایمان ولرو. آیا دا ټول هغه څه دي چې الله ﷻ یې له موږ څخه غواړي؟ ممکن داسې نه وي. راځئ په دې اړه لاندې قرآني آیت ته پام وکړو:

اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ شُكْرًا وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ﴿ سبإ: ١٣﴾

ژباړه: اې د داود کورنۍ (ددې) شکرانې دپاره (نیك) عمل کوئ او زما بندګانو کې لږ شکر وېستونکي دي.

ښه نو، وروسته د ایمان راوړلو څخه عمل مهم دی. مګر دا عمل څه دی؟ موږ نه پوهېږو مګر راځئ پیدا یې کړو. یوه غوره لاره چې ددې پوښتنې لپاره ځواب پیدا کړو داده چې هغه کسان پیدا کړو چې په ښه توګه یې د الله ﷻ شکر ادا کړی او وګورو چې دوی د کومو اعمالو په سبب الله ﷻ ته نږدې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ﷻ په قران کريم کې فرمايي:

إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ ٱجْتَبَٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿النحل: ١٢٠-١٢١﴾

ژباړه: بې شکه چې ابراهيم (په يوازې ځان لکه) يو امت ؤ، الله ته غاړه اېښودونکی حق پلوی (سړی) ؤ او (هېڅکله) له مشرکانو څخه نه ؤ (١٢٠)دهغه د نعمتونو شکر وېستونکی ؤ، الله هغه غوره او سمې لارې ته وربرابر کړ.

الله ﷻ همدارنګه زياتوي:

ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ إِنَّهُۥ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا ﴿الاسرا: ٣﴾

ژباړه: د نوح اولاد مو په کښتۍ کې سپاره کړل او دوی د شکر ايستونکو له ډلې څخه وو.

په همدې اساس، نوح او ابراهيم له هغو کسانو څخه وو چې په ښه توګه يې د الله ﷻ شکر ادا کړی و او له هغه څخه يې مننه کړې ده. بناً، موږ بايد د دوی پر پل قدم کېږدو او هغه څه چې دوی يې زموږ لپاره بيانوي په دقت واورو تر څو موږ هم د دوی په شان شوو. راځئ اوس په دقت سره ابراهيم ته غوږ شوو چې زموږ لپاره څه لارښوونې لري. الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي:

وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِـۧمُ ٱلْقَوَاعِدَ مِنَ ٱلْبَيْتِ وَإِسْمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّآ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾ رَبَّنَا وَٱجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَآ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَٱبْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُواْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٢٩﴾ وَمَن يَرْغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبْرَٰهِـۧمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفْسَهُۥ وَلَقَدِ ٱصْطَفَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٣٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ

(c) ketabton.com: The Digital Library

أَسْلِمْۖ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿١٣١﴾ وَوَصَّىٰ بِهَآ إِبْرَٰهِـۧمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يَـٰبَنِىَّ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰ لَكُمُ ٱلدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٣٢﴾ أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ ٱلْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِنۢ بَعْدِى قَالُوا۟ نَعْبُدُ إِلَـٰهَكَ وَإِلَـٰهَ ءَابَآئِكَ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَـٰعِيلَ وَإِسْحَـٰقَ إِلَـٰهًا وَٰحِدًا وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٣﴾ تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْۖ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٣٤﴾ وَقَالُوا۟ كُونُوا۟ هُودًا أَوْ نَصَـٰرَىٰ تَهْتَدُوا۟ۗ قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِـۧمَ حَنِيفًاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٣٥﴾ قُولُوٓا۟ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَـٰعِيلَ وَإِسْحَـٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِىَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٦﴾ فَإِنْ ءَامَنُوا۟ بِمِثْلِ مَآ ءَامَنتُم بِهِۦ فَقَدِ ٱهْتَدَوا۟ۖ وَّإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا هُمْ فِى شِقَاقٍۖ فَسَيَكْفِيكَهُمُ ٱللَّهُۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١٣٧﴾ صِبْغَةَ ٱللَّهِۖ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ صِبْغَةًۖ وَنَحْنُ لَهُۥ عَـٰبِدُونَ ﴿١٣٨﴾ قُلْ أَتُحَآجُّونَنَا فِى ٱللَّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ وَلَنَآ أَعْمَـٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَـٰلُكُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُخْلِصُونَ ﴿١٣٩﴾ أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَـٰعِيلَ وَإِسْحَـٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطَ كَانُوا۟ هُودًا أَوْ نَصَـٰرَىٰۗ قُلْ ءَأَنتُمْ أَعْلَمُ أَمِ ٱللَّهُۗ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَـٰدَةً عِندَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَـٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٤٠﴾ تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْۖ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ.

﴿البقره: ١٢٧-١٤٧﴾

ژباړه: او کله چې ابراهیم او اسماعیل ددې کور بنیادونه جګول (او ویل یې) ای زموږ ربه له موږه يې قبول کړه بې شکه همدا ته پوی اوریدونکی يې (١٢٧) ای زموږ ربه موږ دواړه درته تابع وګرځوه او له اولادې مو هم تاته یو تابعدار ولس، او زموږ (دحج او نور دینی) احکام راوښیه، او توبه مو قبوله کړه، بې شکه همدا ته مهربان ښه توبه قبلونکی يې (١٢٨) زموږ ربه! او دوی ته، خپله دوی نه یو داسې رسول ولیږه چې ستا ایتونه پری لولي، کتاب او دینی پویه ورښيي او روزنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې کوي بې شکه همدا ته ځيرك عزتمن يې (۱۲۹) او څوك به د ابراهيم له دينه مخ واړوي پرته له هغه چې خپل ځان يې پاګل جوړ کړی وي؟ او رښتيا ده چې هغه مو په دنيا کې غوره کړی او په آخرت کې به حتماً له صالحانو وي (۱۳۰) کله چې هغه ته يې خپل رب وويل: تسليم شه! وېلې د مخلوقاتو رب ته تسليم شوی يم (۱۳۱) او په همدی (دين) باندی ابراهيم هم خپلو زامنو ته وصيت کړی ؤ او يعقوب هم (چې) اې زامنو! دا دين الله درته غوره کړی نو مه مرئ مګر دا چې تاسې مسلمانان وئ (۱۳۲) ايا تاسو هغه مهال حاضر وئ چې يعقوب ته مرګ راورسېد او خپلو زامنوته يې وويل: له ما وروسته به څه شی نمانځی؟ دوی وويل ستا معبود او ستا د پلار نيکه ابراهيم، اسماعيل او اسحاق معبود، هماغه يوازينی معبود، او موږ ورته تسليم يوو (۱۳۳) دا خو يو تېر شوی ولس دی، هغوی ته د هغه عمل بدله ده چې کړي يې دي او تاسوته د هغه چې کړي مو دي او څه چې هغوی کول تاسونه ترې پوښتل کيږئ (۱۳۴) او ويل يې: يا يهود شئ يا نصارا، نو سمه لار به مومئ! ورته وايه نه بلکې د ابراهيم دين چې حق پالی ؤ او له مشرکانو څخه نه ؤ (۱۳۵) داسې ووايئ چې په الله مو ايمان راوړی او څه چې موږ ته نازل شوی او ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب او اولادې نه يې نازل شوي او په هغه چې موسی، عيسی او نورو انبياؤ ته دخپل رب له خوا ورکړی شوي دي په دوی يوه کې هم بېلتون نه کوو او موږ هغه ته غاړه اېښودونکي يوو(۱۳۶) نو که داسې ايمان يې راوړو لکه چې تاسو پری راوړی نو په سمه لار شول او که مخ يې وګرځولو نو حتماً دوی په مخالفت کې دي چې زر به الله د دوی په مقابل کې تاته کفايت وکړي او هغه ښه پوی اورېدونکی دی (۱۳۷)(او داسی هم ووايئ) ا لهي رنګ (مومنلی) او څوك به الله نه ښه وي په رنګ کې او موږ دهغه عبادت کونکي يوو (۱۳۸) ورته ووايه! ايا په الله کې راسره ناندرۍ ووهئ؟ حال داچی هغه زموږ او ستاسو( دواړو) خدای دی او موږ ته خپل عمل دی او تاسوته خپل عمل او موږ هغه ته مخلصان يوو (۱۳۹) او که

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو دا وائئ چې بې شکه ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب او اولاده يې يهوديان او نصارا ؤ، ورته ووايه! ايا تاسو ښه پوهېږی که الله؟ او له هغه به لا ستر ظالم څوك وي چې د الله له لوري كومه شاهدي ورسره پټه كړي او الله خو له هغه څه چې تاسو يې كوئ، غافل نه دی (۱۴۰) دا هم يو ولس ؤ چې تېر شوی دی، هغوی لره به هغه ( بدله) وي چې كړي يې دي او تاسو لره به دهغه بدله چې كړي مو دي او هغوی چې څه كول تاسو نه ترې پوښتل كيږئ. (۱۴۱)

له دې اوږد بحث څخه دا نتيجه اخيستل كېږي چې ابراهيم عليه سلام يو مسلمان و او خپلو اولادونو ته يې هم دا توصيه كړې چې مسلمان وي. پر همدې اساس، د شكر ادا كولو هغه عمل چې موږ ټول يې بايد ترسره كړو دا دی چې د اسلام لارښوونې تعقيب كړو او هغه څه چې موږ ته درس راكوي زده كړو. كله چې موږ دا كار ترسره كړو موږ د هغو كسانو له ډلې حسابيږو چې شكر ادا كوي او ريښتيني مسلمانان دي. راځئ اوس نوح عليه سلام ته غوږ شوو.

الله ﷻ په قرآن كريم كې فرمايي:

وَٱتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُم مَّقَامِى وَتَذْكِيرِى بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْتُ فَأَجْمِعُوٓا۟ أَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ ٱقْضُوٓا۟ إِلَىَّ وَلَا تُنظِرُونِ ﴿۷۱﴾ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿يونس: ۷۱-۷۲﴾

ژباړه: او د نوح خبر پرې ولوله! كله يې چې خپل قوم ته وويل: اې زما قومه! كه په تاسو كې زما اوسېدل او د الله په آيتونو سره نصيحت درته كول، پر تاسو درانه او سخت شوي وي نو ما خو په الله بروسه كړې، او تاسو هم خپل كار او شريكان راغونډ كړئ، بيا دې خپل دغه كار له تاسو پټ نه وي بيا چې هر څنګه ضرر وي، ماته يې راورسوئ او (هيڅ) مهلت مه راكوئ (۷۱) نو كه تاسو مخ وګرځولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ما هم څه اجر نه ؤ درنه غوښتی، زما اجر له الله پرته په بل چا نه دی او ماته امر شوی چې زه په خپله له مسلمانانو څخه واوسم (۷۲).

نو نوح علیه سلام هم یو مسلمان دی او خپلو خلکو ته یې هم لارښوونه کړې چې مسلمانان شي. مطلب اوس روښانه کیږي. راځئ پر هغه څه چې له شروع څخه مو پرې بحث کړی یوه کتنه وکړو. موږ ته د یو هدف لپاره پنځه حواس راکړل شوي دي. موږ پر دې پوی شوو چې ددې هدف مقصد دادی چې موږ یې له هغه چا څخه شکرانه ادا کړو چا چې موږ ته دغه حواس راکړي. موږ وروسته دا هم پیدا کړل چې مننه کول یا شکرانه ادا کول تنها په ژبه د کلماتو بیانول ندي، بلکې باید عقیده ولرو او اعمال ترسره کړو. وروسته موږ هڅه وکړه پوی شوو چې څنګه ایمان ولرو او کوم اعمال ترسره کړو. د دې لپاره غوره لار دا وه چې هغه کسان وپېژنو چې په واقعي مانا یې د الله ﷻ شکر ادا کړی او ایمان یې راوړی او هغه اعمال ترسره کړو چې دوی ته د الله ﷻ له لوري په ګوته شوي او په ورین تندي یې ترسره کوي. زموږ لپاره دوه غوره مثالونه د ابراهیم او نوح علیهم سلام وو. موږ دوی ته غوږ ونیو او دا راته ښکاره شوه چې دوی په یوه الله ﷻ باور لري او موږ ته هم دا لارښوونه کوي چې مسلمانان واوسو. دوی همدارنګه موږ ویرولي یوو چې که ایمان را نه وړو د کافرانو له ډلې به شمېرل کیږو او د دوزخ اور ته به ځو.

اوس نو انتخاب له موږ سره دی!

له توجو مو مننه، هیله ده بحث مو خوښ شوی وي.

پای

میزان-۱۴۰۲
کابل-افغانستان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**